موسسه مطالعات عامه افغانستان

appro

د افغانستان د عامه څېړنو مؤسسه

# AFGHANISTAN PUBLIC POLICY RESEARCH ORGANIZATION

www.appro.org.af

**توجيهي مقاله**

**اپرېل ۲۰۱۹**

# له طالبانو سره د سولې خبرو لنډه مخينه

**د افغانستان د عامه څېړنو موسسې په اړه**

د افغانستان د عامه څېړنو موسسه د ټولنيزو څېړنو يو خپلواک ارګان دی چې د «ټولنيزې پوهې او له پاليسۍ څخه د زده کړې» لوړونه تر کاري پوښښ لاندې نيسي ترڅو وکولای شي چې د علمي – ټولنيزو څېړنو، د څارنې ارزونې پروګرامونو، ښوونې روزنې او سلا مشورې له لارې په افغانستان او نورو لږ پرمختللو هېوادونو کې د پرمختيايي او بيارغونې پروګرامونو له پياوړتيا سره مرسته وکړي. دغه موسسه د افغانستان په اقتصاد وزارت کې د يوه غير انتفاعي او نادولتي بنسټ په توګه ثبت شوې چې مرکزي دفتر يې په کابل کې دی او سيمه ييز دفترونه يې په مزارشريف (شمال)، هرات (لوېديځ)، کندهار (سوېل)، جلال آباد (ختيځ) او باميانو (مرکز) کې دي.

د افغانستان د عامه څېړنو موسسه په بلجيم هېواد کې د APPRO-Europe سازمان د بنسټ ايښودونکي پلاوي غړيتوب هم لري او همدارنګه د عامه پاليسيو له پاره د نياو غوښتنې ملي کمېټې د دارالانشاء په توګه هم کار کوي او هم د غوره حکومتوالۍ، جنسيت تحليل، عملي ټولنيزو څېړنو، عامه ادارې او پراختيا(GRAD) مرکز بنسټ ايښودونکې ده. د افغانستان د عامه څېړنو موسسې په اړه د لا ډېرو معلوماتو ترلاسه کولو له پاره دغې پاڼې: www.appro.org.af او د APPRO-Europe موسسې په اړه د لا ډېر معلوماتو له پاره دغې پټې: www.appro-europe.net او د عامه پاليسيو له پاره د نياو غوښتنې ملي کمېټې په اړه د لا ډېر جزئياتو له پاره دغې پټې: www.nac-pp.net او او د GRAD مرکز په اړه د لا ډېرو معلوماتو له پاره دغې پټې: www.grad.edu.af ته مراجعه وکړئ.

دغه توجيهي مقاله له ۲۰۰۱ کال راهيسې طالبانو سره د سولې خبرو په اړه د شته معلوماتو کتنې پر بنسټ چمتو شوې. دغه مخينه به د يوې سريزې په توګه د ۱۳۲۵ عمل پلان پر پلي کېدو د څارنې پروژې د يوې برخې په توګه څېړنيز راپور په پيل کې راشي. ياده پروژه د سويډن د پراختيايي همکاريو نړيوالې ادارې له خوا تمويل شوې او موخه يې د افغانستان د ۱۳۲۵ عمل پلان د پلي کېدو لړۍ په اړه څارنه او د ژورو څېړنو ترسره کونه ده. د دې څېړنې راپور به د ۲۰۱۹ کال د اپرېل مياشتې په پای کې د افغانستان د عامه څېړنو موسسې د وېب پاڼې(www.appro.org.af) له لارې لوستونکو ته د لاسرسي وړ ده.

د اړيکو برېښنا ليکونه: mail@appro.org.af و
mail@appro-europe.net

افغان دولت له ۲۰۱۰ کال راهيسې له طالبانو سره د سولې د ټينګښت او شخړو د پای په لاره کې څو نا برياليۍ هڅې وکړې. دغه نوښتونه تر څه مودې وړاندې د طالبانو له انکار سره مخ وې او په پرله پسې توګه يې له افغان دولت سره له خبرو ډډه کړې او په هېواد کې د نيواکګرو ځواکونو په توګه يې له متحده ايالتونو سره د سولې په مخامخ خبرو ټينګار کړی.

د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي له طالبانو سره د سولې ټرون وړانديز وکړ او ټاکل شوې وه چې په ۲۰۱۰ کال د سولې عالي شورا له لارې او وروسته د ۲۰۱۱ کال د لويې جرګې له لارې خبرو ته وړاندې شي. په دې وړانديز کې د بېرته ادغام يو پلان شامل و او په ټولنه کې يې د طالبانو له پاره د محترمانه ځای زېرۍ ورکاوه؛ خو په دې شرط چې طالبان له تاوتريخوالي لاس واخلي او له القاعده شبکې سره خپله اړيکه پرې کړي. د پخلاينې پلان هم د يوې بلې لارې په توګه وړاندې شو ترڅو د طالب مشرانو د بنبلو او سياسي رسميت پېژندلو او هم د ترهګرو له تور لېست څخه د هغوی د نومونو لرې کولو په لاره کې له همکارۍ ډاډ ترلاسه شي. (۱) خو د ولسمشر کرزي وړانديز د طالبانو له خوا رد شو. طالبانو هم وروسته د سولې عالي شورا رييس برهان الدين رباني په ۲۰۱۱ کال د لويې جرګې له جوړېدو څو اوونۍ وړاندې ووژه.

د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې تر ډېره له هېواد څخه د باندې د دواړو لورو د اړيک کسانو له لارې وشوې. د کرزي د دولت له خوا د سولې د ټينګښت هڅې سره له پرمختګونو د منسجمې ستراتيژۍ نه شتوالي، د افغان دولت او نړيوالو فعالانو ترمنځ د کمزورې همغږۍ او پروسې د نا روښتيا له امله له ماتې سره مخ شوې. (۲)

د ملي يوالي حکومت له پاره په ۲۰۱۴ کال د خپل تأسيس راهيسې د سولې ټينګښت يو لومړيتوب و. ولسمشر غني د سيمې هېوادونو او ځانګړې توګه پاکستان ته مخه کړه ترڅو له افغانستان سره د سولې په ټينګښت کې مرسته وکړي. نوموړي همدارنګه يولړ هڅې وکړې ترڅو نړيواله ټولنه قانع کړي چې د افغانانو تر مديريت او مشرۍ لاندې د سولې پروسه برياليتوب ته رسېدای شي. کابل پروسه د افغانانو تر مشرۍ او مالکيت لاندې سولې پروسې په اړه د سيمه ييزې او نړيوالې اجماع رامنځ ته کولو په موخه د ۲۰۱۷ کال په جون کې پيل شوه. د کابل د لومړي کنفرانس پرمهال، ولسمشر غني د هغو هڅو اصلي کرښې بيان کړې چې د خبرو اترو مېز شاته د طالبانو کېنولو په لاره کې له خپل دولت سره همکارۍ ته د پاکستان د قانع کولو په لاره کې کړې وې او زياته يې کړه چې پاکستان همکارۍ ته چمتو نه شو او ښکاره هم نه ده چې له افغانستانه څه غواړي. (۳)
د کابل د سولې پروسې دويم پړاو د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ په ۲۸ مه تنظيم شو چې په کې ولسمشر غني له طالبانو سره د سولې خبرې له هر راز مخکې شرط پرته وړانديز وکړ چې د طالب جنګياليو ښنبل، د يوه سياسي ګوند په توګه د طالبانو په رسميت پېژندل، د اساسي قانون تعديل، د طالب مشرانو له پاره د سزاګانو او بنديزونو لغوه کول په کې شامل وو.(۴) له دې سره، طالبانو دغه وړانديز ونه مانه او ويې ويل چې يوه مياشت وروسته يانې د اپرېل په مياشت کې به خپل پسرلني عمليات پيل کړي.

په دې منځ کې، د ۲۰۱۸ کال د مارچ په ۲۶ مه، ګڼو افغانانو د هغه ځان وژونکي بريد په غبرګون کې د هلمند ولايت په لښکرګاه ښار کې ناسته وکړه چې دوې ورځې وړاندې له يوه سپورټي لوبغالي څخه د غېږ غېږ نيولو مسابقې له کتلو وروسته وتونکو کسانو په منځ کې وشو او له امله يې لسګونه تنه مړه او ووژل شول. ګڼو کسانو له هلمند څخه کابل ته د سولې له پاره د لاريون پيل او د ۲۰۱۸ کال په جون مياشت کې درې ورځنۍ اوربند د هغو ښنو په توګه په پام کې نيولي چې څرګندوي د جګړې دواړه لوري د سولې خبرو غوښتونکي دي.

د ۲۰۱۸ کال په جون میاشت کې، ولسمشر غني د کوچني اختر په ورځو کې له طالبانو سره د یوې اونۍ یو طرفه اوربند اعلان کړ چې له مخې یې افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو باید په ټول هېواد کې د طالبانو پر ضد خپل عملیات ودروي. طالبانو هم د اختر په دریو ورځو یانې د جون له ۱۶ تر ۱۸ نېټې د اوربند په اعلانولو سره ځواب ورکړ او اعلان یې وکړ چې د اوربند له پایته رسېدو وروسته به خپل بریدونه له سره پیل کړي. (۵) .
ولسمشر غني د طالبانو له خوا د دغې اعلامیې له خپرېدو سربېره، د ۲۰۱۸ کال د اګست په میاشت کې له لوی اختر وړاندې یو بل اوربند اعلان کړ چې دا ځل یې طالبانو وړاندیز رد کړ او په راکېټونو سره یې په ارګ برید وکړ، همدارنګه د غزني په ښار یې نظامي برید وکړ او له امله یې سلګونه ملکي وګړي او امنیتي ځواکونه ووژل شول. (۶)

د جون له ۱۶ تر ۱۸ مۍ، ګڼ شمېر طالب جنګیالي د افغانستان لویو ښارونو ته ننوتل او ټاکل شوې وه چې د ملکي وګړو، ځینو سیاستوالو او ملي ځواکونو له خوا یې هرکلی وشي. اوربند او د سولې دغه څوځایيز (۷)غورځنګ ته د خلکو محتاطانه خو مهم غبرګون چې د ۲۰۱۸ کال د مارچ په پای کې پیل شوی و، د سولې د ټینګښت او په دې اړه یې نوې هیلې را وټوکولې چې له طالبانو سره د سولې په څو اړخیزو خبرو کې باید کوم ټکي پام کې ونیول شي.

ولسمشر غني د افغانستان په اړه د جینوا په وزارتي کنفرانس کې چې د ۲۰۱۸ کال په نومبر میاشت کې جوړ شو، له طالبانو سره د سولې له پاره د خپلې لارې نقشه وړاندې کړه. نوموړي له ښځو او نرانو تشکیل شوی ۱۲ کسیز مرکچي پلاوی معرفي کړ چې د جمهوري ریاست د دفتر عمومي رییس عبدالسلام رحیمي له خوا یې مشري کېده. نوموړي زیاته کړه چې دولت یې د سولې خبرو اترو مخکې وړلو له پاره لازم پوټنشیل او ظرفیت لري او دا چې افغانستان د سولې پروسې نوي پړاو ته ننوتی. ولسمشر له شرط پرته د سولې خبرو کولو وړاندیز وکړ خو د سولې د هوکړې له پاره یې سرې کرښې په ګوته کړې. د افغانستان اساسي قانون او د ښځو حقونو ته درناوی او د هېواد په کورنیو چارو کې د بهرنیو ترهګرو او جنایي ډلو د مداخلې مخنیوی په خبرو اترو کې د افغان دولت سرې کرښې وګڼل شوې. (۸)
روسیه هم د ۲۰۱۸ کال په نومبر میاشت کې د طالبانو د یوه پلاوي او سولې عالي شورا د غړیو ترمنځ د سولې د بې ساري خبرو اترو کوربه وه چې د یوه نا دولتي بنسټ په توګه یې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت پر هلو ځلو د څارونکي په توګه عمل کاوه. د افغان دولت له خوا هېڅ رسمي پلاوي په دغو ناستو کې ګډون نه درلود خو د چین، پاکستان، هندوستان، ایران او منځنۍ آسیا هېوادونو په ګډون له لسو څخه ډېرو هېوادونو خپل استازي دغو خبرو ته استولي وو.(۹)افغان پلاوي له مخکې شرط پرته د سولې خبرواترو وړاندیز تکرار کړ حال دا چې طالبانو په دې موضوع بیا ځل ټینګار وکړ چې هغوی یوازې له امریکا سره خبرې کوي. طالبانو همدارنګه له هېواد څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو وتلو او د اسلامي شریعت له مخې د اساسي قانون اصلاح کولو په اړه په خپل دریځ هم ټینګار وکړ. (۱۰)

د مسکو د خبرواترو دویم پړاو د افغان سیاستوالو او طالب پلاوي ترمنځ د ۲۰۱۹ کال په فبروۍ میاشتې ترسره شو. د دغې دوه ورځنۍ غونډې پایله د جګړې پای ته رسولو لارې د نقشې په اړه هوکړه وه. د لارې د دې نقشه په لومړني پړاو کې د ټولو بهرنیو ځواکونو وتل او د افغانانو اساسي حقونو ته درناوی شامل دي. دواړو لورو دغه خبرې

«ډېرې قناعت بښوونکې او بریالۍ ب» وګڼلې (۱۱) او د نهو ټکو لرونکې یوې اعلامیې په خپرولو یې هوکړه وکړه چې د سولې یوه تړون ته د رسېدو اړتیا – که څه هم افغان دولت د سولې په دغو خبرو کې ګډون ونه لري- باید د بین الافغاني خبرو اترو له پاره ادامه پیدا کړي. په دې خبرو کې د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ په مخامخ خبرو، په ملي بنسټونو کې سیستماتیکو اصلاحاتو، د سولې په پروسه کې ګاونډیانو ته ونډه ورکولو، د بهرنیو ځواکونو هر اړخیز وتلو، د دې خبرې ضمانت چې افغان خاوره به د هېڅ بل هېواد په ضد نه کارول کیږي، له اسلامي احکامو سره سم د ښځو د حقونو په ساتنې، له اسلامي احکامو سره سم د آزادۍ ساتنې، د افغانستان د بیارغونې له پاره د پراختیایي مرستو جذبولو، د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه د طالب مشرانو د نومونو لرې کولو، په قطر کې د طالبانو له پاره د دفتر پرانستلو او د قطر په دوحه کې د بین الافغاني خبرونو په سرته رسولو ټینګار وشو. (۱۲)

د سولې خبرو د وروستیو دورو په اړه او همدارنګه دا چې له طالبانو سره خبرې کوونکې ډله کې تر ډېره پخواني مجاهدین، د افغان دولت سیاسي مخالفان او په مسکو کې مېشت افغانان شامل دي – چې هېڅ یو یې هم د خبرو په پروسه کې د افغان دولت ورګډولو ته تمایل ونه ښود – اندېښنې شتون لري. له طالبانو سره خبرې کوونکې ډله دېته په کتو سره چې د افغان دولت له لوري کوم چې یو انتخابي دولت دی او د اساسي قانون له مخې مسؤلیت لري، هېڅ ماموریت نه دی ورکړل شوی، یوه شکمنه او نامشروع ډله ګڼل کیږي. همدارنګه داسې اندېښنې هم شته چې دغه ډله د هغې روغې جوړې یا مصالحې پر وړاندې ځواب ویونکې نه ده چې له ښایي له طالبانو سره یې ترسره کړي. د ګڼو کتونکو له انده، هغه هوکړې چې له طالبانو سره به د ښځو د حقونو، ځوانانو او لږکیو په اړه وشي، ښایي د اساسي قانون له احکامو او په کې له تضمین شویو حقونو سره مخالفت ولري.

د سولې په خبرو کې د ښځو«هدفمند ګډون» یوه له هغو غوښتنو ده چې په .پرله پسې توګه د مدني ټولنې له خوا مطرح شوې(۱۳) د ۲۰۱۹ کال په اپرېل میاشت کې، د دوحې د سولې په خبرو کې د دولتي استازو شاملول، که څه هم په شخصي توګه، له هغو حقونو څخه د لا ډېرې ساتنې په لاره کې یو کوچني خو مثبت ګام ګڼل کیږي چې افغان دولت یې خوندي کولو ته ژمن دی. دغې موضوع په خپل وار د سولې په خبرو کې د مدني ټولنې او ښځو د استازو شاملېدو سبب شوه. له دې سره، ښځې لا هم د سولې خبرو په لوړه کچه کې له شتون څخه بې برخې دي او دغه مسئله په دې اړه د اندېښنو لامل کیږي چې د هغوی ګډون ترکومه حده کولای شي د ښځو او لږکیو له حقونو څخه د ملاتړ په برخه کې د عیني لاسته راوړنو تضمین وکړي.(۱۴)

په قطر کې د متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ د خبرو په څلورم پړاو کې خلیلزاد د افغان غمیزې پای ته رسولو فوریت ته اشاره وکړه.(۲۳)د هغه چوکاټ له مخې چې د سولې له خبرو راپورته شوی، که چېرې خبرې په سولې پای ته ورسیږي، طالبان به ضمانت ورکړي چې افغانستان به د ترهګرو له پاره د خوندي جنت په توګه نه کارول کیږي او یا پر متحده ایالتونو د بریدونو ترسره کولو له پاره به د ترهګرو په خوندي پټنځای نه بدلیږي. په بدل کې به متحده ایالات خپل ټول ځواکونه له افغانستان څخه په بشپړه توګه وباسي. همدارنګه ویل کیږي چې دغه چوکاټ اد تنفیذي مکانیزمونوب له پاره احکام او مفاد هم لري؛ که څه هم د دغو مکانیزمونو د فعالیت څرنګوالي په اړه او دا چې څوک به یې د تنفیذ واک ولري، هېڅ ډول جزئیات په لاسرسي کې نه شته.(۲۴) د خلیلزاد په خبره، طالبان به آخر له اوربند او له افغان دولت سره مخامخ خبرو ته غاړه کېږدي، خو دغه ادعا د طالبانو له خوا رد شوې ده.(۲۵) د راپورونو له مخې، د جمهوري ریاست په راتلونکو ټاکنو کې د طالبانو د ورګډولو په وړاندیز کې د خلیلزاد له خوا د ټاکنو ځنډولو نظر هم وړاندې شوی.(۲۶) نوموړي وروسته څرګنده کړه چې د ټاکنو ترسره کول او ځنډول هغه پرېکړه ده چې خپله یې باید افغانان وکړي. (۲۷) د دې راپور د لیکلو پرمهال (د ۲۰۱۹ مارچ)، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ویلي چې د جمهوري ریاست ټاکنې به له پلان سره سم د ۲۰۱۹ کال په جولای میاشت کې ترسره شي.

خلیلزاد څرګنده کړه چې د متحده ایالتونو هڅې له طالبانو څخه د دې تضمین په اخستلو تمرکز لري چې افغانستان به د ترهګرو له پاره په خوندي پټنځای نه بدلیږي او هم د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د قدرت وېش په هر هوکړه لیک کې به بشري حقونو، د مطبوعاتو آزادۍ او د ښځو حقونو ته درناوی کیږي.(۲۸) دغه هڅې د ویتنام د جګړې په اوږدوکي د پاریس د سولې له خبرو سره تشبېه شوې چې له اوسني لیدلوري د دولت مخالفې وسله والې ډلې ته د متحده ایالتونو تسلیمي ګڼل کیږي. کله چې طالبان واک ته ورسیږي، له هر هغه شرط پرته چې متحده ایالتونو وضع کړي، هېڅ ډول محدودیت به په وړاندې ونه لري او وبه شي کولای چې په آزادانه توګه د حکومت کولو له پاره هر راز لاره خپله کړي.(۲۹) ولسمشر غني د خلکو په شتون کې خبرداری ورکړی چې د سولې هر هغه تړون به د ناورین او وینو تویېدو سبب شي چې په کې افغان دولت ګوښه شوی وي. (۳۰)

د هېواد په سترو ښارونو کې د زده کوونکو له ۳۰ سلنو ډېرې، د پارلمان د وکیلانو له ۲۵ سلنو ډېرې او د کاري ځواک شاوخوا ۲۰ سلنه ښځې تشکیلوي. دغه ټولې لاسته راوړنې په اساسي قانون کې اتکل شوې خو لاهم بسنه نه کوي. له کور څخه د باندې د ښځو د شتون او تحرک محدودولو په غرض د اساسي قانون بیا کتنه کېدای شي په زوراو پرته له دې چې

خبرې دومره وړاندې تللې چې طالبانو اعلان کړی چې له سولې وروسته دولت کې به اساسي حقونو ته د ښځو لاسرسی د اسلامي احکامو له مخې تضمین شي. په ورته حال کې، د طالبانو ویاند ویلي چې «د ښځو د حقونو تر نامه لاندې، د اخلاقي فساد، بې حیایۍ او غیر اسلامي فرهنګ خپرولو هڅه شوې». (۱۵) د سولې په خبرو کې غیر طالب ګډونوالو په تېرو ۱۷ کالو کې ترلاسه شویو آزادیو او حقونو په برخه کې ترلاسه شویو لاسته راوړنو ته ډېره لږه اشاره کړې حال دا چې اکثریتو یې هوکړه کړې چې اسلامي ارزښتونو (نه دي په ګوته شوي) ته ژمن اوسي. یوازې دوو ښځو د مسکو په خبرو کې ګډون درلود حال دا چې هېڅ یوې ښځینه استازې د قطر په خبرو کې شتون نه درلود.(۱۶)د سولې په خبرو کې د ښځو ګوښه کولو او د هغوی حقونو ته پاملرنې نه کولو په اړه ناخوښي یوازې تر کابل او د هېواد سترو ښارونو پورې محدوده نه ده. د مثال په توګه، د غور له کلیوالي ولایت څخه یو شمېر ښځو په دې اړه اندېښنه ښودلې چې ښایي آزادۍ یې په دغو خبرو اترو کې تر پښو لاندې شي. (۱۷)

له طالبانو سره د سولې شرایطو په اړه له هغو اندېښنو سربېره چې د ټولنې د مختلفو برخو او په ځانګړې توګه د ښځو، ځوانانو، قومي او مذهبي لږکیو ترمنځ مطرح شوې او هم له هغو آوازو سره چې نوي اساسي قانون ته د طالبانو د یوې مهمې غوښتنې په توګه له اسلامي شریعت سره ډېر انطباق ورکړل شي، لاهم د سولې په اړه د هیلو او خوشبینۍ څپې شته دي.

طالبانو تل په افغانستان کې د یوه نیواکګر رژیم په توګه له متحده ایالتونو سره پر مخامخ خبرو ټینګار کړی. د امریکا متحده ایالتونو له پاره له طالبانو سره د سولې هوکړه کېدای شي په افغانستان کې د اوږدمهاله او درانه لګښته شتون څخه د ګوښه کېدنې ستراتیژۍ لومړی پړاو وي.(۱۸)د ۲۰۱۸ کال د سپتمبر په میاشت کې د افغان سولې او پخلاینې له پاره د متحده ایالتونو د ځانګړې استازي په توګه د زلمي خلیل زاد ټاکنه د خبرو له لارې د سولې یوه تړون ته د رسېدو له پاره د واشنګټن د جدي لېوالتیا ښکارندویي کوي.(۱۹) . ښاغلي خلیلزاد د سیمه ییز او نړیوال ملاتړ جلبولو له پاره خپلې مشورتي لیدنې له اسلام آباد، ریاض او قطر څخه پیل کړې. نوموړي له روسیې هم لیدنه وکړه او وروسته له افغان ولسمشر محمد اشرف غني، افغان سیاسي څېرو او د مدني ټولنې له استازو سره ناستې وکړې ترڅو د سولې د هوکړې په اړه د هغوی لیدلوري، لومړیتوبونه او اندېښنې واوري. (۲۰)

پاکستان هم د دې له پاره چې د افغان سولې د ټینګښت هلوځلو په اړه خپل ښه نیت څرګند کړي، د طالبانو یو بانفوذه مهم مشر او د طالبانو د تحریک بنسټ ایښودونکی ملا عبدالغني برادر یې له بنده آزاد کړ ترڅو د سولې په خبرو کې له امریکایي چارواکو سره ګډون وکړي.(۲۱)د ملا برادر خوشي کېدو د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون د ګڼو افغانانو له هرکلي سره مخ شو او دغه ګام یې په هېواد کې د سولې او پخلاینې په هڅو کې مثبت ګام وګاڼه.(۲۲)

هغو نا ځاپي محدودیتونو سره ورته ترسره شي چې د مجاهدینو په دوره کې د ښځو له پاره وضع شوي وو. د ګڼو ښځو له لیدلوري، «د سولې زیان ښايي محدودیت ونه لري.» (۳۱)

د ۲۰۱۹ کال په فبرورۍ میاشت کې، د سولې په اړه د افغان ښځو د نظر اجماع عالي ملي کنفرانس له ټول هېواد څخه د ۳۵۰۰ ښځو په ګډون په کابل کې جوړ شو. ولسمشر مخاطبانو ته د خپلې وینا په اوږدو کې د سولې خبرو پرمهال د معاملې د یوې وسیلې په توګه د ښځو حقونو کارونې هر ډول امکان رد کړ. دغه کنفرانس د یوې اعلامیې په خپرولو پای ته ورسېد چې د جګړې پای ته رسولو، د افغانستان اساسي قانون ته د درناوي او د سولې په پروسه کې د ښځو رول په رسمیت پېژندلو غوښتنه په کې شوې وه. (۳۲)

د دوحې د سولې خبرو په اړه د افغان ښځو شبکې بیانیې هم له سوله ییزو لارو د جګړې پای ته رسول، د سولې په خبرو کې د ښځو ورګډول او د ښځو د حقونو درناوی او په رسمیت پېژندل غوښتي دي. دغه بیانیه همدارنګه غوښتنه کوي چې طالبان د د خلکو باور جلبولو له پاره تر خپل واک لاندې سیمو کې د نجونو د ښوونځیو پرانستو، د ښځو پر موسسو د بریدونو نه کولو او د ډاکټرانو، نرسانو او خبریالانو ساتنې په څېر چارو ته مخه کړي. (۳۳)

د خلیلزاد مېرمنې آغلې چریل بینارډ د هغه مطلب په ځواب کې چې د نیویارک ټایمز په Op-Ed (۳۴) پاڼه کې د دوو افغان مېرمنو له خوا د ایوې بین الافغاني موضوع په توګه د ښځو د حقونو تعریفولو په اعتراض خپور شوی و، د National Interests مجلې د ۲۰۱۹ کال فبرورۍ میاشتې په ګڼه کې یوه مقاله خپره کړه او د لاندې دلایلو په وړاندې کولو سره یې له افغان فېمېنسټانو وغوښتل چې د خپل برخلیک مسؤلیت د امریکا متحده ایالتونو له دوو لسیزو ملاتړ وروسته په خپله غاړه واخلي:

> کله چې د سپټمبر له یوولسمې وروسته د لومړي ځل له پاره افغانستان ته راغلو او د افغانو ښځو تیاره شرایط او ځور مو ولید، ښکاره خبره وه چې باید مرسته یې وکړو. له نېکه مرغه د هغوی په نیابت زموږ پراخو او ډېر لګښته هلو ځلو د هغوی کار اسانه کړ. خو هغه دریځ چې یوشمېر له هغوی زموږ د هدفي شاتګ له امله خپلوي، زما له پاره اندېښمنوونکی دی. آزادي د نورو د زړه سوي ثمره نه ده او هم کېدای شي د نورو په اردو او پیسو ترلاسه شي. ۱۷ کاله، د ۲۵۰۰ امریکایي سرتېرو وژل کېدل او د ۱۲۶ میلیارد ډارو لګښت کفایت کوي، له دې ډېر نه یوازې د توجیه وړ نه دي بلکې له هېڅ لارې نه شي کولای موږ په یوې مطلوبې لارې سم کړي.

مېرمن بینارډ زیاتوي چې اوس خپله په افغان ښځو پورې اړه لري چې د خپلو حقونو ترلاسه کولو له پاره مبارزه او مقاومت وکړي او ومنی چې د دغو حقونو ترلاسه کول ریښه لرونکو ارزښتونو او فرهنګي دودونو ته په کتو ښايي سل کاله وخت واخلي.(۳۵) که څه هم دغه لیدلوري په ټولیزو رسنیو کې سخت غبرګونونه راوپارول، خو ښکاري چې که د سولې تړون افغانانو ته د نظر ځرګندولو حق له ورکړي او د ښځو له حقونو څخه د ساتنې له پاره د ځانګړي مفاد له وضع کولو پرته خبرو ته وړاندې شي، افغانان له دې پرته بله چاره نه لري چې له ځانه دفاع وکړي.

نور په دې اند دي چې آن که افغان ښځې وکولای شي په خپلو ښښو ودریږي، بیا هم د افغان ښځو په اړه د لوېدیځ له تاریخي مسؤلیت څخه څه نه کمیږي. د ۲۰۰۱ کال په وروستیو کې د طالبانو د رژیم له پرځېدو وروسته افغان ښځې ډله ډله د باندې را ووتلې او پر ښځو تمرکز لرونکو پروګرامونو او د نړیوالو ډونرانو د ساتندویه ګامونو لکه د سیاست او ملکي خدمتونو په برخو کې د ښځو له پاره د ونډې وضع کولو په ملاتړ یې وکولای شول د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې حضور پیدا کړي. له دې سره، دغه لاسته راوړنې ترهغه وخته ساتل کېدای شي چې لوېدیځ په افغانستان کې د پام وړ شتون ولري. له افغانستان څخه د لوېدیځ په بېړني شاتګ سره د دې خطر شدید احتمال شته چې د ښځو له پاره ډېرې ترلاسه شوې لاسته راوړنې شاته پاتې شي. خو یو شمېر نور د مېرمن بینارډ د دریځ پر خلاف د افغانو ښځو او البته په نورو ځایونو کې هم د لوېدیځ پر اخلاقي مسؤلیت ټینګار کړی:

> له کابو دوو لسیزو جګړې وروسته، متحده ایالتونه په اخلاقي لحاظ مسؤلیت لري چې ډاډ ترلاسه کړي د دوی له وتلو وروسته افغان ښځې د نویمې لسیزې وحشتناک حالت ته نه ستنیږي. خو موږ هم باید ډاډمن شو چې له هغوی سره د سعودي عربستان، مصر، بحرین، د پاکستان او اندونیزیا په څېر هغو نورو ملتونو په پرتله خورا ډېر ښه چلند کیږي چې موږ ورسره نیږدې امنیتي او ډیپلوماتیکې اړیکې لرو. متحده ایالتونه باید له ښځو سره د یوشان چلند له پاره د دغو هېوادونو پر مشرانو د فشار راوړلو په لاره کې شته هلې ځلې رهبري او لارښوونه یې وکړي... متحده ایالات باید د افغان ښځو – او په پراخه کچه د ټولو افغانانو- له حقونو څخه د ملاتړ او دفاع له پاره آن که چېرې له هېواد څخه د خپلو ځواکونو ایستلو پرېکړه هم وکړي، چمتوالی ولري. (۳۶)

په داسې حال کې چې منل شوي چې د سولې خبرې تر ډېره د محرمتوب یوې درجې ته اړتیا لري، خو دا اندېښنه هم شته چې د ټولو ګټه اخستونکو او په ځانګړې توګه د ښځو له پراخ ګډون پرته ښايي د سولې هوکړه په اوږدمهال کې ثبات ونه لري. د سولې شعوري ټینګښت د دې کار معرفت او ارزونې ته اړتیا لري چې د افغان ټولنې مختلفې برخې له طالبانو سره د سولې له تړون څه انځور لري او دغې سولې ته د رسېدو له پاره د خپلو کومو ځیزونو تېرېدو ته چمتو دي.

له دې سربېره، دېته په کتو چې د افغانستان ۱۳۲۵ ملي عمل پلان ترډېره د نړیوالې ټولنې تر لارښونې لاندې تصویب شوی او د ملي یوالي حکومت، نړیوالې ټولنې او ښځو د حقونو ټولنو له خوا منل شوی، اړتیا ده وڅېړل شي چې له طالبانو سره د سولې تړون ترکومه حده د دې پلان له مفادو سره سمون لري. په همدې کچه مهمه ده چې د سولې تړون د اساسي قانون له احکامو، هغو نورو قوانینو، پالیسیو او جوړښتونو څخه په متابعت وشي چې له ۲۰۰۱ کال راوروسته پرله پسې افغان دولتونو، که څه هم د نړیوالو ډونرانو ترفشار لاندې، د جنسیتي نابرابرۍ د هواري له پاره رامنځ ته کړي.

# منابع


(۱) Kaura, V. (2018). “Understanding the complexities of the Afghan peace process”. Observer Research Foundation, available from: https://www.orfonline.org/wp-content/uploads/2018/04/ORF_Occasional_Paper_151_Afghanistan.pdf

(۲) *Ibid.*

(۳) Center for Strategic and Regional Studies (2018,February 17). *The upcoming meeting of the Kabul Process and the fate of the peace talks*. Retrieved March2, 2019, from CSRS: http://csrskabul.com/en/blog/the-upcoming-meeting-of-the-kabul-process-and-the-fate-of-the-peace-talks/

(۴) Calamur, K. (2018, March 28). “Is Peace on the Horizon of Afghanistan?” Retrieved March 28, 2019, from The Atlantic: https://www.theatlantic.com/international/archive/2018/03/afghanistan-taliban-tashkent-conference/556508/

(۵) Qazi, S. (2018, June 18). “Afghanistan: Taliban resume fighting as Eid ceasefire ends.” Retrieved March 2, 2019, from ALJAZEERA: https://www.aljazeera.com/news/2018/06/afghanistan-taliban-resume-fighting-eid-ceasefire-ends-180618044536196.html

(۶) Constable, P. (2018, August 14). “Taliban Assault on Ghazni Flouts Afghan and U.S. Hopes for Truce, Peace Talks.” Retrieved March 2, 2019, from The Washington Post: https://www.washingtonpost.com/world/taliban-assault-on-ghazni-flouts-afghan-and-us-hopes-for-truce-peace-talks/2018/08/14/f0725c72-9f21-11e8-a3dd-2a1991f075d5_story.html?noredirect=on&utm_term=.ab6d8b4d3f80

(۷) Multi-sited peace movement

(۸) Radio Free Europe Radio Liberty. (2018, November 28). “Afghanistan’s Ghani Presents 'Road Map' For Peace Talks At UN Conference.” Retrieved March 2, 2019, from https://www.rferl.org/a/afghanistan-ghani-roadmap-peace-talks-un-conference-/29626218.html

(۹) BBC. (2018, November 9). “Afghanistan war: Taliban attend landmark peace talks in Russia.” Retrieved March 2, 2019, from BBC NEWS: https://www.bbc.com/news/world-asia-46155189

(۱۰) Kiselyova, M. (2018, November 9). “Taliban attends peace talks in Moscow for first time, no progress reported.” Retrieved March 3, 2019, from REUTERS: https://www.reuters.com/article/us-russia-afghanistan-taliban/taliban-attends-peace-talks-in-moscow-for-first-time-no-progress-reported-idUSKCN1NE159

(۱۱) Higgins, A., & Mashal, M. (2019, February 6). “Taliban Peace Talks in Moscow End With Hope the U.S. Exits, if Not Too Quickly.” Retrieved March 3, 2019, from The New York Times: https://www.nytimes.com/2019/02/06/world/asia/taliban-afghanistan-peace-talks-moscow.html

(۱۲) ISW NEWS. (2019, February 9). “Joint Statement by Afghan Political Leaders and Taliban Representatives at the Moscow Summit.” Retrieved March 4, 2019, from http://www.english.iswnews.com/4786/joint-statement-by-afghan-political-leaders-and-taliban-representatives-at-the-moscow-summit/

(۱۳) Ruttig, T. (2019). “Women and Afghan Peace Talks: “ Peace Consensus” Leaving Left Afghan Women Without Reassurance.” Afghanistan Analysts Network, Kabul. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/women-and-afghan-peace-talks-peace-consensus-gathering-left-afghan-women-unassured/

(۱۴) Sediqi A. (2019, April 15) “Taliban Team at Afghan Pace talks in Qatar to Include Women: Spokesman.” Reuters. Retrieved April 16 from: https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-taliban/taliban-team-at-afghan-peace-talks-in-qatar-to-include-women-spokesman-idUSKCN1RR1LT?il=0

(۱۵) Farmer, B. (2019, February 5). “Taliban say women's rights to be protected under Islam, but must not threaten Afghan values.” Retrieved March 3, 2019, from The Telegraph: https://www.telegraph.co.uk/news/2019/02/05/taliban-say-womens-rights-protected-islam-must-not-threaten/

(۱۶) See: Afghanistan Times (2019, February 19). “Women fear ignorance of their roles in peace talks.” Retrieved March 3, 2019 and TOLO news (2019, February 25). “US, Taliban Officials Meet In Qatar; Talks To Begin Tuesday.” Retrieved March 3, 2019.

(۱۷) Pajhwok. (2019, February 27). “Peace talks: Ghor women fear retreat on their rights.” Retrieved March 3, 2019, from Pajhwok Afghan NEWS: https://www.pajhwok.com/en/2019/02/27/peace-talks-ghor-women-fear-retreat-their-rights

(۱۸) Associated Press. (2018). US envoy on Afghan peace takes mission to Pakistan. Retrieved March 2, 2019, from The Washington Post: https://www.washingtonpost.com/world/asia_pacific/us-envoy-on-afghan-peace-takes-mission-to-pakistan/2018/10/09/a480d2aa-cb7f-11e8-ad0a-0e01efba3cc1_story.html?utm_term=.432b116e24b8

(۱۹) Osman, B. (2018, September 5). “As New U.S. Envoy Appointed, Turbulent Afghanistan’s Hopes of Peace Persist.” Retrieved March 3, 2019, from International Crisis Group: https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/new-us-envoy-appointed-turbulent-afghanistans-hopes-peace-persist

(۲۰) Constable, P. (2018, October 13). “Taliban says US envoy held talks on possible paths to end Afghan war.” Retrieved March 2, 2019, from CITIZEN: https://www.princegeorgecitizen.com/washington-post/international/taliban-says-us-envoy-held-talks-on-possible-paths-to-end-afghan-war-1.23462914

(۲۱) De Luce, D., Yusufzai, M., Kube, C., & Lederman, J. (2018, November 28). « Trump's envoy 'tests all channels' with Afghan Taliban in bid to launch peace talks.” Retrieved March 2, 2019, from NBC NEWS: https://www.nbcnews.com/news/world/trump-s-envoy-tests-all-channels-afghan-taliban-bid-launch-n940846

(۲۲) Afghan Voice Agency( AVA). (2018, October 27). “Hamid Karzai welcomes Mullah Beradar’s release.” Retrieved March 2, 2019, from https://www.avapress.com/en/news/173128/hamid-karzai-welcomes-mullah-beradar-s-release

(۲۳) TOLO news. (2018, November 29). “We Are In Hurry To End The Afghan Tragedy: Khalilzad.” Retrieved March 3, 2019, from https://www.tolonews.com/afghanistan/we-are-hurry-end-afghan-tragedy-khalilzad

(۲۴) Associated Press. (2019, February 8). “Khalilzad says there’s tentative ‘framework,’ but much work still to do.” Retrieved March 3, 2019, from The Columbian: https://www.columbian.com/news/2019/feb/08/khalilzad-says-theres-tentative-framework-but-much-work-still-to-do/

(۲۵) Mashal, M. (2019, January 28). “U.S. and Taliban Agree in Principle to Peace Framework, Envoy Says.” Retrieved March 2, 2019, from The New York Times: https://www.nytimes.com/2019/01/28/world/asia/taliban-peace-deal-afghanistan.html

(۲۶) De Luce, D., Yusufzai, M., Kube, C., & Lederman, J. (2018, November 28). « Trump's envoy 'tests all channels' with Afghan Taliban in bid to launch peace talks.” Retrieved March 2, 2019, from NBC NEWS: https://www.nbcnews.com/news/world/trump-s-envoy-tests-all-channels-afghan-taliban-bid-launch-n940846

(۲۷) TOLO news. (2018, November 29). “We Are In Hurry To End The Afghan Tragedy: Khalilzad.” Retrieved March 3, 2019, from https://www.tolonews.com/index.php/afghanistan/we-are-hurry-end-afghan-tragedy-khalilzad

(۲۸) *Ibid.*

(۲۹) For this line of reasoning, see, for example, Crocker, R. (2019, January 29). “I was ambassador to Afghanistan. This deal is a surrender.” Retrieved March 3, 2019, from The Washington Post: https://www.washingtonpost.com/opinions/i-was-ambassador-to-afghanistan-this-deal-is-a-surrender/2019/01/29/8700ed68-2409-11e9-ad53-824486280311_story.html?utm_term=.b35a73ec38e4

(۳۰) Constable, P., & DeYoung, K. (2019, January 31). “U.S. Withdrawal from Afghanistan Tied to Afghan Dialogue and a Taliban Cease-fire.” Retrieved March 2, 2019, from The Washington Post: https://www.washingtonpost.com/world/national-security/us-withdrawal-from-afghanistan-tied-to-afghan-dialogue-and-a-taliban-cease-fire/2019/01/31/db386178-2327-11e9-90cd-dedb0c92dc17_story.html?utm_term=.84d82936c870

(۳۱) France 24. (2019, February 1). “Afghan Women Fear Cost of Peace Will Be Their Freedom”. Retrieved March 6, 2019, from https://www.france24.com/en/20190201-afghan-women-fear-cost-peace-will-be-freedom

(۳۲) Office of the President. (2019, February 28). “In A First, A Grand Conference On Peace Of Over 3,500 Afghan Women Organized In Kabul.” Retrieved March 3, 2019, from https://president.gov.af/en/1/2/28/19

(۳۳) Afghan Women's Network. (2019). “Afghan Women’s Public Statement on Doha Peace Talks.” Retrieved March 3, 2019, from http://awn-af.net/index.php/cms/press_detail/1506/12

(۳۴) صفحه مقابل صفحه سرمقاله ها

(۳۵) Benard, C. (2019, February 27). “Afghan Women are In Charge of Their Own Fate.” Retrieved March 5, 2019, from The National Interest: https://nationalinterest.org/feature/afghan-women-are-charge-their-own-fate-45777?fbclid=IwAR1z9BOcnsui8q8qJDa9C2JUxvLn5cVueCyKM6xIankkv41qSjPx4JqTOH8&page=0%2C1

(۳۶) Korb, L.J. (2019, February 23). “The Future of Women in Afghanistan.”, Retrieved March 5, 2019, from the National Interest: https://nationalinterest.org/feature/future-women-afghanistan-45252